# مجاهد جنګ سالار ته

د غاصب جنګ سالارانو څه دوران دي

د بی وزلو زوړ او ځوان خلک حال پريشان دي

له هغي ورځی چي ملا ،وکيل، قاضی اومامور شوي

د ځنګل قانون په ملک کي جاري شوي

ها چي زور لري هر شي د هغي په واک دي

د قانون په وړاندي هغه تل بی باک دي

دوی د بل په نيستي تل خپل هستي ويني

چي پانګوال شي هر پستي په خوښی مني

دا چي څه پر خلک تيريږي بی خبر دي

هر شپه پر هغو برات ورځ تول اختر دي

ها چي مونږ ورته اشرار ويل ريښتيا وه

د دښمن په لاس ابزار همدا ملا وه

چي په واک ورسيد اور په وطن بل کړل

د دښمن په هرپل کي خپل پل کړل

د وطن هست وبود په ډزو وران کړل

خپل تور مخ افغانانو ته عیان کړل

د اسلام تر شعار لاندي ګناه وکړل

په خپل کار اوپه کړو کی خطا وکړل

مخاطب مي اوس ته یي غټ اشراره

بد عمل ، بدجنس کرغیړن او بدکرداره

ته خو مخکي ډیر نادار او پریشان ویی

په مسجد کی خیرات خور د هر افغان ویی

دا ثروت او دا دولت دي کړ له کومه

چي ځواب رانکړي نه دي پریږدمه

له معاشه دا ثروت نه پیدا کیږی

یا دولت بی له غلا هیڅ نه زیاتیږي

دا پیسی دی تول په غلا را تول کړي

یا چپاول دی پر کورونو تا ورې

ته چې راغلي خزانی کې ډېر پیسې وه

خزانو کی سره زر او سپین نقری وه

ته چې راغلي خزانی دې تول خالي کړ

په مردار بدن دی نوی سپین کالي کړ

***

افغان ورورہ بس دی خوب ځنی بیدار شه

د خوشحال توره راواخله په تلوار شه

د اشرار د واکمنی دولت نسکور کړه

په وحدت د افغانان د مټ په زور کړه

یو ګړی نور دوی په واک مه پرېږده

همفکران دی له هری خوا را ټولوه

زړه مه پری خوږوه دوی افغان نه دي

د دوی کړنه یوه هم د انسان نه دي

دوی افغان او مسلمان خلک وژلی

چی یی وسه یي رسیدلی افغان ترتلی

پاکستان چي څه ویلي هغه یی کړي

پر افغان باندي میچني ګرځولي

دوی له یو سره تول مباح الدم دی

ورکاوی د دوی لمړی او مقدم دي

له دي غلو داړه مارانو وطن آزاد کړه

رنځیدلی د «مل» زړه افغانه ښاد کړه

------------------

پوهندوی دوکتور سیدحسام «مل»

جرمنی 2019-04-30